بسم الله الرحمن الرحیم

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ترورېزم د تمويل پر خلاف د مبارزې قانون

رسمي جريده ګڼه (۸۳۹)

نېټه ۱۳۸۳/۷/۳۰هـ. ش

(c) ketabton.com: The Digital Library

**خواننده گرامی!**

افتخار داریم که بعد از نشر"مجموعه قوانین افغانستان" با شیوهٔ تنظیم موضوعی، اکنون به‌خاطر سهولت بیشتر در دسترسی شما به قوانین مورد نیاز، سلسلهٔ دیگری از قوانین نافذهٔ کشور را با قطع کوچک جیبی در اختیار شما قرار می دهیم.

**څارنپوه حبیب الله "غالب"**

**وزیر عدلیه**


**نام:** قانون مبارزه علیه تمویل تروریزم

**ناشر:** وزارت عدلیه جمهوری اسلامی افغانستان

**تهیه و ترتیب:** ریاست نشرات

**مدیر پروژه:** قانونمل محمد رحیم"دقیق" سرپرست ریاست نشرات

**تدارکات و اداری:** سید محمد هاشمی رئیس امور مالی و اداری و احمد خالد عزیزی معاون واحد پروژه بانک جهانی در وزارت عدلیه

**طراح جلد وصفحه‌آرا:** امان الله صداقت(غیبی)، عباس رسولی و حسین امینی

**مصححین:** نورعلم خان، حلیم سروش، محمد رفیع عمری و احسان الله نیکزاد

**مشاورین:** اسماعیل حکیمی و محمد یما قاسمیار

**تاریخ نشر:** ۱۳۹۰

**تیراژ:** ۵۰۰۰

**چاپ:** اول (قطع جیبی)

**قیمت:** ۳۰ افغانی

**مطبعه:** مطبعه طباعتی و صنعتی احمد

**تلفن ریاست نشرات:** ۰۷۰۰۵۸۷٤۵۷

**ویب سایت:** www.moj.gov.af


کلیه حقوق چاپ برای وزارت عدلیه محفوظ است.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پښتو فهرست

## د تروریزم د تمویل پر خلاف د مبارزې قانون

**لومړی فصل: عمومي حکمونه** ........................................ ۱۱
هدف ........................................................................ ۱۱
اصطلاحګانې ............................................................. ۱۱
د تروریزم د تمویل جرم ............................................... ۱۲
**دوه یم فصل: اجباري تدبیرونه او مجازات** ........................ ۱۳
د حقیقي اشخاصو مجازات ........................................... ۱۳
د حکمي اشخاصو مجازات ............................................. ۱۴
مشدده احوال .............................................................. ۱۴
مخففه احوال ............................................................... ۱۵
مصادره ..................................................................... ۱۵
د جنایت کار سازمان د وجوهو او شتمنیو مصادره ............... ۱۶
د ځینو قانوني سندونو ابطال ........................................... ۱۶
د مصادره شوو وجوه او شتمنیو اړوندتیا (تعلقیت) ................ ۱۷
په مصادره شوو وجوهو او شتمنیو کې د ثالثو اشخاصو حقوق ۱۷
د وجوهو او شتمنیو کنګل (منجمد) کول ............................. ۱۷
د کنګل کولو د شخړو په هکله کړنلاره ................................ ۱۷
مؤقت تدبیرونه ............................................................ ۱۸
ضبط ......................................................................... ۱۸
**دریيم فصل: د محکمو واک** ........................................... ۱۹
د محکمو د واک حوزه ................................................... ۱۹
**څلورم فصل: نړیواله همکاري** ....................................... ۲۰
یو تر بله (متقابله) همکاري ............................................ ۲۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مکاتبې حق (ارتباط)........................................................ ۲۰
اړوندو(ذیربطو)هېوادونو ته خبرتیا ........................................ ۲۱
د قضايي همکارۍ لپاره غوښتنه............................................ ۲۱
د غوښتنې ردول ............................................................ ۲۲
د تحقیقاتي تدبیرونو د نیولو غوښتنه ................................... ۲۳
د مؤقتو تدبیرونو د نیولو لپاره غوښتنه ................................ ۲۳
**پنځم فصل: متفرقه حکمونه** ............................................ ۲۴
د ثبت کړنلاره ............................................................ ۲۴
هبه او اعانه................................................................ ۲۴
ممنوعه سازمانونه ......................................................... ۲۴
د سازمانونو مجازات....................................................... ۲۵
د الکترونیکي انتقالاتو ضمیمه معلومات.................................. ۲۵
انفاذ نېټه.................................................................. ۲۶

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فهرست دری

## قانون مبارزه علیه تمویل تروریزم

**فصل اول: احکام عمومی** ........................................ ۳۱
هدف ........................................ ۳۱
اصطلاحات ........................................ ۳۱
جرم تمویل تروریزم ........................................ ۳۲
**فصل دوم: تدابیر اجباری و مجازات** ........................................ ۳۳
مجازات اشخاص حقیقی ........................................ ۳۳
مجازات اشخاص حکمی ........................................ ۳۴
احوال مشدده ........................................ ۳۵
احوال مخففه ........................................ ۳۵
مصادره ........................................ ۳۵
مصادرۀ وجوه و دارائی های سازمان جنایتکار ........................................ ۳۷
ابطال بعضی از اسناد قانونی ........................................ ۳۷
تعلقیت وجوه و دارائی های مصادره شده ........................................ ۳۷
حقوق اشخاص ثالث در وجوه و دارائی های مصادره شده ........................................ ۳۸
منجمد سازی وجوه و دارائی‌ها ........................................ ۳۸
طرز العمل در مورد منازعات منجمد سازی ........................................ ۳۸
تدابیر مؤقت ........................................ ۳۸
ضبط ........................................ ۳۹
**فصل سوم: صلاحیت محاکم** ........................................ ۳۹
حوزۀ صلاحیت محاکم ........................................ ۳۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

**فصل چهارم: همکاری بین المللی** ............................................. ۴۰
همکاری متقابل ............................................................. ۴۰
حق مکاتبه (ارتباط) ........................................................ ۴۱
اطلاعیه به کشور های ذیربط ................................................ ۴۱
تقاضا برای همکاری قضائی .................................................. ۴۲
رد درخواست ................................................................ ۴۲
درخواست اتخاذ تدابیر تحقیقاتی ............................................ ۴۳
درخواست جهت اتخاذ تدابیر مؤقت .......................................... ۴۴
**فصل پنجم: احکام متفرقه** ............................................... ۴۴
طرزالعمل ثبت .............................................................. ۴۴
هبه و اعانه ................................................................. ۴۵
سازمانهای ممنوعه ........................................................... ۴۵
مجازات سازمانها ............................................................ ۴۵
معلومات ضمیمۀ انتقالات الکترونیکی ....................................... ۴۶
تاریخ انفاذ .................................................................. ۴۶

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دافغانستان انتقالي اسلامي دولت

ګڼه: (۱۳۶۹۹)
نېټه: ۱۳۸۳/۷/۲۶

**د عدليې وزير محترم قانونپوه عبدالرحيم کريمې!**
د تروریزم د تمویل پر خلاف د مبارزې قانون چې په (۵) فصلونو او (۳۰) مادو کې د وزيرانو د عالي مجلس لخوا تصويب او د ۱۳۸۳/۷/۲۶ نېټې د (۸۲) ګڼې فرمان پر بنسټ زموږ لخوا منظور شوی دی، تاسو ته دروا ستول شو چې په رسمي جريده کې يې په خپرولو اقدام وکړئ.

**حامد کرزی**
**د افغانستان د انتقالي اسلامي دولت رئيس**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د تــروریـــزم د تمویل پر خلاف د مــبارزې د قــانون د انــفاذ پــه هکلــه د افغانستان د انتـقالي اســلامي دولــت د رئیس فرمان**

**ګڼه: (۸۲)**
**نېټه: ۱۳۸۳/۷/۲۶**

**لومړۍ ماده:**
د تروریزم د تمویـل پر خلاف د مبـارزې قـانون چې پـه (**۵**) فصلونو او (۳۰) مادو کې د وزیرانو د عـالي مجلس لخـوا د ۱۳۸۳/۷/۲۰ نېټې د (۳۱) ګڼې مصوبې پر بنسټ تصویب شوی دی توشېح کوم.

**دوه یمه ماده:**
دغه فرمان د توشېح له نېټې څخه نافذ او لـه قـانون سره یـو ځـای دې په رسمي جریده کې خپور شي.

**حامد کرزی**
**د افغانستان د انتقالي اسلامي دولت رئیس**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د تروریزم د تمویل پر خلاف د مبارزې قانون

## لومړی فصل
## عمومي حکمونه

### هدف
**لومړۍ ماده:**
دغه قانون د اساسي قانون د اوومې مادې د حکم په رڼا کې د تروریزم د تمویل پر خلاف د مبارزې په منظور وضع شوی دی.

### اصطلاحګانې
**دوه یمه ماده:**
لاندې اصطلاحګانې پدې قانون کې لاندېنۍ معناوې افاده کوي:
۱-.وجوه او شتمنۍ: له هر ډول مادي او غیر مادي، شرکتي او غیر شرکتي، منقولو او غیر منقولو، عیني او غیر عیني شتمنیو او د الکترونیکي او دیجیتل سندونو په ګډون له هغو قانوني سندونو یا مدارکو څخه عبارت دي چې د دې ډول شتمنیو مالکیت یا په هغو کې ګټې درلودل ثابت کړي.
۲- دولتي ودانۍ او تجهیزات:
له ودانیو، نقلیه وسایلو او هغو مؤقتو یا دایمي وسایلو او تجهیزاتو څخه عبارت دي چې د ټولو دولتي او بین الحکومتي سازمانونو د کارکوونکو او د نورو دولتي مراجعو د مسئولینو لخوا د خپلو رسمي دندو له پرمخ بیولو سره په رابطه کې تصرف او تر ګټې اخیستنې لاندې نیول کیږي.
۳- له جرمونو څخه منځته راغلي عواید: له هر ډول هغو وجوهو او شتمنیو څخه عبارت دي چې په مستقیمه یا غیر مستقیمه توګه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې قانون په درېیمه ماده کې د درج شوي جرم له ارتکاب څخه تر لاسه شوي وي.
۴- کنوانسیون: د تروریزم له تمویل څخه د مخنیوي په هکله له نړیوا ل کنوانسیون څخه عبارت دی چې د (۲۰۰۰) میلادي کال د جنورۍ په لسمه نېټه لاسلیک شوی دی.

**د تروریزم د تمویل جرم**

**درېیمه ماده:**

(۱) شخص هغه وخت د تروریزم د تمویل د جرم مرتکب ګڼل کېږي چې وجوه او شتمنۍ په مستقیمه یا غیر مستقیمه توګه، عمداً او په غیر قانوني صورت سره برابرې او راټولې یا یې د برابرولو او راټولولو هڅه وکړي یا وجوه او شتمنۍ او نور خدمتونه پدې باندې په پوهېدو سره چې قسماً یا کلاً په لاندې یادو شویو فعالیتونو کې تر ګټې اخستنې لاندې نیول کېږي برابري او راټولې کړي یا یې د برابرولو او راټولولو هڅه وکړي:
۱- هر هغه عمل چې د تروریزم له تمویل څخه د مخنیوي په کنوانسیون کې د درج شوو ضمیمو مطابق د جرم په توګه پېژندل شوی او د افغانستان دولت ورسره الحاق کړی وي.
۲- هر هغه عمل چې د ملکي افرادو یا نورو هغو اشخاصو د وژلو یا شدید ټپ په نیت چې په دښمنیو او وسله والو شخړو کې یې فعاله ونډه نده اخیستې، صورت ومومي او هدف یې د ماهیت او قرینې له نظره د یوې ټولګې (جمعیت) ترمنځ ترهګري یا د یوۀ عمل تر سره کولو یا نه تر سره کولو ته د حکومت او یا نړیوال سازمان مجبورول وي.
(۲) هر هغه عمل چې د دې مادې د (۱) فقرې د حکم مطابق، د جرم د متشکله عناصرو له جملې څخه وي، لدې پرته چې له وجوهو او شتمنیو څخه واقعاً د نومورې فقرې په (۱ او ۲) جزء کې د درج شوي جرم د سرته رسولو لپاره له هغو څخه ګټه اخیستل شوې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۳) شخص په لاندې حالاتو کې هم د تروریزم د تمویل د جرم مرتکب ګڼل کېږي:

۱- چې د دې مادې په (۱) او (۲) فقره کې د درج شوې جرم د شریک په توګه برخه واخلي.

۲- نورو اشخاصو ته پدې ماده کې د درج شوي جرم د ارتکاب په غرض، سازمان ورکړي، لارښوونه یې وکړي او یا یې ولمسوي.

۳- پدې ماده کې د درج شوي یوځ یا له یوځ څخه د زیاتو جرمونو په ارتکاب کې له هغو اشخاصو سره چې د یوځ ګډ هدف لپاره په عمل لاس پورې کوي، د جرم د ارتکاب په هکله د هغو له هدف څخه له پوهې او خبرتیا سره سره همکاري وکړي او یا یې د هدفونو د سرته رسولو لپاره لازمې آسانتیاوې برابرې کړي.

(۴) پدې ماده کې د درج شوو جرمونو د ارتکاب د توجیه کولو لپاره سیاسي، عقیدتي، توکمیزې او قومي ملاحظې او نور ورته موارد، د اعتبار وړ نه ګڼل کېږي.

## دوه یم فصل
## اجباري تدبیرونه او مجازات

### د حقیقي اشخاصو مجازات

**څلورمه ماده:**

۱-.هغه شخص چې د تروریزم د تمویل د جرم مرتکب وګرځي، د حبس په مجازاتو چې موده یې له پنځو کلونو څخه لږ او له پنځلسو کلونو څخه زیاته نه وي او نقدي جریمه چې له دوه سوه پنځوسو زرو افغانیو څخه لږ او له یو ملیون او پنځه سوه زرو افغانیو څخه زیاته نه وي، محکومېږي.

۲- د تروریزم د تمویل د جرم د ارتکاب ګډون کوونکی، مرستندوی، آسانتیاوې برابروونکی، قصد کوونکی او سلاورکوونکی او هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



اشخاص چې له دوی سره په یووالي یا توافق کې وي، د جرم د فاعل په ډول مجازات کېږي.

**د حکمي اشخاصو مجازات**

**پنځمه ماده:**

(۱) په هغه صورت کې چې د تروریزم دتمویل جرم، د کارکوونکي (کارمند)، د حکمي شخصیت د وکیل یا نماینده لخوا ارتکاب شي، حکمي شخصیت په نقدي جریمه چې له یو ملیون او پنځه سوه زرو افغانیو څخه لږ او له څلور ملیونو او پنځه سوه زرو افغانیو څخه زیاته نه وي، محکومېږي، دغه حکم، حکمي شخصیت ته منسوب پر حقیقي اشخاصو باندې د مجازاتو د اصل د تطبیق خنډنه ګرځي. په دولت پورې مربوط حکمی شخصیت لدې امر څخه مستثني دی.

(۲) حکمـي شخصیت د دې مـادې پـه (۱) فقـره کـې پـر درج شـوو مجازاتو بر سېره په لاندې مجازاتو هم محکومېدای شي:

۱- په دایمي توګه یا لږ تر لږه د پنځو کلونو لپاره دځینو سوداګریزو فعالیتونو له مستقیم او یا غیر مستقیم پر مخبیولو څخه منع کول.

۲- پـه دایمـي توګـه یـا لږ تـر لـږه د پنځـو کلونـو لپـاره د هغـو اړونـدو ودانیـو چـې پـدې قـانون کـې د درج شـوو جرمونـو پـه ارتکـاب کـې ور څخه ګټه اخیستل شوې وي، بندول.

۳- د شرکت منحلول، پدې شرط چې له جوړېدو څخه یې هدف د جرم ارتکاب وي.

۴- د تړولیزو رسنیو له لارې د حکم خپرول.

**مشدده احوال**

**شپږمه ماده:**

که چېرې د تروریزم د تمویل جرم، د جنایتکار سازمان یا هغهٔ حکمـي شخصیت لخوا چې د جنایتکار سازمان تر تملک یا کنترول لاندې دی تر سره شي، په لاندې توګه مجازات کېږي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱- حقیقي شخص په هومره حبس چې له پنځلسو کلونو څخه لږ نه وي یا په ابد حبس او نقدي جریمه چې له یو ملیون افغانیو څخه لږ او له دوولسو ملیونو افغانیو څخه زیاته نه وي محکومېږي.
۲- حکمي شخص په نقدي جریمه چې له څلورو ملیونو او پنځه سوه زرو افغانیو څخه لږ او له شلو ملیون افغانیو څخه زیاته نه وي، محکومېږي.

**مخففه احوال**

**اوومه ماده:**

پدې قانون کې د درج شوو جرمونو د مرتکبینو په هکله د هېواد په قوانینو کې درج شوي مخففه احوال د رعایت وړ دي.

**مصادره**

**اتمه ماده:**

(۱) لاندې وجوه او شتمنۍ د واکمنې محکمې لخوا مصادره کېږي:
۱- هغه وجوه او شتمنۍ چې د جرم د ارتکاب په منظور ور څخه ګټه اخیستل شوې وي یا یې د ګټې اخیستلو نیت (قصد) موجود وي.
۲- هغه وجوه او شتمنۍ چې له جرمي عواید و څخه لاسته راغلې وي یا له هغو څخه مشتق شوې وي او یا یې له تبادلې څخه لاسته راغلې وي.
۳- د دې فقرې په (۱ او ۲) جزء کې درج شوي وجوه او شتمنۍ چې بل شخص ته منتقل شوې وي خو دا چې خاوند ثابته کړي چې د دا ډول وجوهو او شتمنیو د تر لاسه کولو په مقابل کې یې د هغو معادله بیه ورکړې یا یې د هغو د ارزښت معادل خدمتونو په بدل کې او یا یې له بلې مشروعې لارې څخه تر لاسه کړېدي او د دغۀ ډول وجوهو او شتمنیو د منشاء له غیر قانوني والي څخه خبر نه دي.
۴- هغه وجوه او شتمنۍ چې په مستقیم یا غیر متسقیم صورت سره له جرمي عمل څخه لاسته راغلې وي او له هغو وجوهو او شتمنیو سره چې له مشروعو سر چینو څخه تر لاسه شوي، ګډې وي، د دغسې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وجوهو او شتمنیو د مصادرې حکم په هغه اندازه صورت مومي چې د محکمې د ارزونې مطابق، له جرم څخه د لاسته راغلو وجوهو او شتمنیو د عوایدو له ارزښت سره معادل وي.
**۵**- که چېرې هغه وجوه او شتمنۍ چې پر مصادرې یې حکم صادر شوی وي تر لاسه نه شي د هغو د معادل وجوهو او شتمنیو پر مصادرې حکم صادرېږي.
پدې حکم کې هغه وجوه او شتمنۍ شامل دي چې په مستقیم یا غیر مستقیم صورت سره د تروریزم د تمویل د جرم په مرتکب پورې اړه لري یا هغه وجوه او شتمنۍ چې د مېرمنې یا د محکوم علیه تر کفالت لاندې اولاد په واسطه له هغهٔ څخه تر لاسه شوې وي، خو داچې د دغسې وجوهو او شتمنیو په مقابل کې معادله بیه ورکول شوې وي.
(۲) د مصادرې په حکم کې د نظر وړ وجوهو او شتمنیو اندازه په ګوته (مشخصه) کېږي.

**د جنایت کار سازمان د وجوهو او شتمنیو مصادره**

**نهمه ماده:**

د جنایتکار سازمان وجوه او شتمنۍ چې د هغو د خرڅلاو یا د له لاسه ورکولو د نورو شکلونو واک یې ولري، د مجرمیت یا له جرم سره د رابطې له په پام کې نیولو پرته مصادره کېږي.

**د ځینو قانوني سندونو ابطال**

**لسمه ماده:**

هغه قانوني سندونه چې له مصادرې څخه د دې قانون په اتمه او نهمه ماده کې د درج شوو وجوهو او شتمنیو د ساتنې په منظور، په ژوندوني په وړیا توګه یا د بیې په بدل کې یا له مړینې د مخه د هبې یا وصیت په ډول ترتیب شوي وي، د محکمې د حکم په اساس باطل او هغه پیسې مشتري ته مستردېږي چې واقعاً یې ورکړې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د مصادره شوو وجوه او شتمنيو اړوندتيا (تعلقيت)**
**یوولسمه ماده:**
(۱) مصادره شوي وجوه او شتمنۍ او له هغو څخه تر لاسه شوي عوايد په دولت پورې اړه مومي، په مصادره شوو وجوهو او شتمنيو کې د ثالثو اشخاصو رهني حقوق په هغهٔ صورت کې چې قانوناً تثبيت شي، خوندي دي.
(۲) د وجوهو او شتمنيو پر مصادرې د غيابي حکم د صادرېدو په صورت کې، د هغو مالکيت په دولت پورې اړه مومي.
که چېرې محکمه د غوښتنليک په اساس تورن تبرئه او د مصادرې حکم لغو کړي، مصادره شوي وجوه او شتمنۍ ياېې معادل ارزښت خاوند ته بېرته ورکول کېږي.

**په مصادره شوو وجوهو او شتمنيو کې د ثالثو اشخاصو حقوق**
**دوولسمه ماده:**
په مصادره شوو وجوهو او شتمنيو کې د ثالثو اشخاصو د مالکيت ادعا د حکم د صادرېدو له نېټې څخه تر يوه کال پورې په واکمنه محکمه کې د اورېدو وړ ده.

**د وجوهو او شتمنيو کنګل (منجمد) کول**
**ديارلسمه ماده:**
د اشخاصو او هغو سازمانونو د و جوهو او شتمنيو کنګل کول چې د ملګرو ملتونو دمنشور داووم فصل له مخې د ملګرو ملتو د امنيت د شورې لخوا ټاکل شوېدي، د افغانستان د دولت د رئيس د فرمان پر اساس صورت مومي.

**د کنګل کولو د شخړو په هکله کړنلاره**
**څوارلسمه ماده:**
د اشخاصو او هغو سازمانونو وجوه او شتمنۍ چې د دې قانون د (۱۳) مادې د حکم په موجب کنګل شويدي، د هغو خاوند کولای شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



د فرمان د صادرېدو له نېټې څخه تر (۳۰) ورځو پورې د استیناف غوښتنې په غرض سترې محکمې ته مراجعه وکړي. پدې برخه کې د سترې محکمې تصمیم وروستنی (نهایي) دی.

**مؤقت تدبیرونه**

**پنځلسمه ماده:**

(۱) واکمنه محکمه د خپل لزومدید له مخې یا د څارنوال د غوښتنې په اثر کولای شي، د وجوهو او شتمنیو او مالي معاملو د کنټرول کولو په برخه کې د دولت په لګښت د مؤقتو تدبیرونو د نیولو حکم صادر کړي.

(۲) د دې مادې په (۱) فقره کې درج د تدبیرونو د رفع کولو حکم، د څارنوال یا د کنټرول شوو وجوهو او شتمنیو د خاوند په غوښتنه (درخواست) د واکمنې محکمې په واسطه صادرېږي.

**ضبط**

**شپاړسمه ماده:**

واکمنه محکمه د خپل لزومدید له مخې یا د څارنوال د غوښتنې بالاثر هغه وجوه او شتمنۍ چې د دې قانون په درېیمه ماده کې د درج شوو جرمونو په ارتکاب کې ورڅخه ګټه اخیستل شوېده یا یې د ګټې اخیستنې قصد متصور وي او هم له دغسې جرمونو څخه لاسته راغلي عواید او د وجوهو او شتمنیو د تشخیص آسانوونکي مدارک ضبطوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دریيم فصل
## د محکمو واک

### د محکمو د واک حوزه
### اووه لسمه ماده:

(۱) د دې قانون حکمونه د هغهٔ په دریيمه ماده کې پر درج شوو جرمونو باندې په لاندې حالاتو کې د تطبیق وړ دي:

۱- جرم د افغانستان د دولت په قلمرو کې ارتکاب شوی وي.

۲- جرم په هغې بېړۍ کې چې د افغانستان ددولت دبیرق لېږدوونکې وي یا په هغه الوتکه کې چې د جرم له وقوع څخه دمخه دهېواد د نافذو قوانینو مطابق ثبت او راجستر شوې وي، ارتکاب شوی وي.

۳- جرم د افغانستان د تبعه لخوا ارتکاب شوی وي.

۴- جرم د افغانستان له قلمرو څخه بهر د هغهٔ بهرني شخص په واسطه ارتکاب شوی وي چې اوس اوس (فعلاً) په هېواد کې موجود وي او د افغانستان دولت، غوښتونکي دولت ته د هغه له بېرته ورکولو سره موافق نه وي.

۵- جرم د افغانستان د دولت د تبعه پر خلاف ارتکاب شوی وي.

۶- جرم د افغانستان د دولت په ودانۍ یا ودانۍ پر خلاف چې د هغه له جغرافیايي محدودې څخه بهر واقع ده ارتکاب شوی وي.

۷- هغه عمل چې ددې قانون د دریيمې مادې د (۱) فقرې په (۱ او۲) جزء کې له درج شوو جرایمو څخه د یوه د ارتکاب په منظور، د یوه عمل د اجراء یا نه اجراء لپاره د افغانستان د دولت د اړ ایستلو په نیت صورت موندلی وي.

۸- جرم د افغانستان د دولت په قلمرو کې له تابعیت پر ته داستوګن شخص لخوا ارتکاب شوی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۲) د افغانستان د دولت ستره محکمه، د هېواد له جغرافیایي محدودې څخه بهر د ارتکاب شوو جرمونو د غورونې په منظور، ځانګړې محکمه جوړ وي.

## څلورم فصل
## نړیواله همکاري

**یو تر بله (متقابله) همکاري**
**اتلسمه ماده:**

د معلوماتو، تحقیقاتو د راکړې ورکړې (تبادلې) د غورونې د بهیر، مؤقتو تدبیرونو، د تروریزم په تمویل پورې د اړوندو سندونو او وجوهو او شتمنیو د مصادرې، د تورنو د بېرته ورکولو او لازمو تخنیکي مرستو په برخو کې پدې قانون کې له درج شوو جرمونو سره د اغېزناکې مبارزې په منظور له نورو دولتونو سره متقابله همکاري صورت میندلی شي.

**د مکاتبې حق (ارتباط)**
**نولسمه ماده:**

(۱) که چېرې بهرنی تبعه یا په افغانستان کې له تابعیت پرته استوګن شخص چې پدې قانون کې د درج شوو جرمونو د ارتکاب له امله تر څارنې یا توقیف لاندې نیول کېږي، د لاندې حقوقو لرونکی دي:
۱- د متبوع دولت له استازي یا هغه شخص سره چې د دهٔ د حقوقو د ساتنې واک لري د فوري تماس نیول.
۲- د هغه هېواد له استازي سره د تابعیت نه لرونکي شخص کتنه چې عادتاً هلته استوګنه لري.
۳- هغو ته د دې فقرې په (۱ او ۲) اجزاوو کې د درج شوو حقوقو ابلاغول.
(۲) که چېرې څارنوالي د نیونې (ګرفتارۍ) او توقیف په اړه غوښتنه د هغهٔ دولت له لوري چې جرم د هغه د قضایي واک په حوزه کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ارتکاب شوی دی، تر لاسه کړي، څارنوالي لازم تدبیرونه نیسي چې تر څارنې (نظارت) یا توقیف لاندې شخص سره د دې قانون د حکمونو مطابق د سره صلیب د استازي په واسطه کتنه (ملاقات) صورت ومومي.

**اړوندو (ذیربطو) هېوادونو ته خبرتیا**

**شلمه ماده:**

د څارنوالۍ اداره مکلفه ده بې له ځنډه د الزام ددلایلو او د دې قانون په نولسمه ماده کې د درج شوو اشخاصو له تحقیقاتو څخه دلاسته راغلو دلایلو له څرنګوالي څخه، د افغانستان ددولت له دیپلوماتیکو لارو یا د ملګرو ملتو د سازمان د سکرتر جنرال په ذریعه، هغه هېوادونه چې جرم د هغو د قضایي واک په حوزه کې ارتکاب شوی دی او د لزوم په صورت کې علاقه لرونکي هېوادونه خبر کړي.

**د قضایي همکارۍ لپاره غوښتنه**

**یوویشتمه ماده:**

که چېرې بهرني دولتونه پدې قانون او د پیسو د تطهیر او له جرمونو څخه دلاسته راغلو عوایدو پر خلاف د مبارزې په قانون کې د درج شوو جرمونو په اړه د متقابلې همکارۍ غوښتنه وکړي، دغه غوښتنه د لاندې مواردو په پام کې نیولو سره د اجراء وړ ده:

۱- د اثباتیه مدارکو راټولول او یا له اړوندو اشخاصو څخه د اظهاراتو اخیستل.

۲- تر نظارت یا توقیف لاندې اشخاصو په تسلیمولو کې مرسته او د غوښتونکې دولت په قضایي مقاماتو پورې په اړوندو تحقیقاتو کې د مدارکو د وړاندې کولو او مرستې په منظور د نورو اشخاصو احضارول.

۳- د قضایي سندونو استول.

۴- د تلاشۍ اجراء کول او دشیانو ضبطول.

۵- د شیانو کتنه (معاینه) او د ځایونو کتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۶- د جرم د اثباتوونکو معلوماتو او مدارکو وړاندې کول.
۷- د بانکي صورت حساب، محاسبوي سندونو او نورو هغو سندونو او سوابقو په ګډون د مصدقه اړوندو سندونو او سوابقو د اصل یا کاپي وړاندې کول چې د شرکت دعملیاتویایې دسوداګریزو فعالیتونو ښکارندوی وي.

**د غوښتنې ردول**
**دوه ویشتمه ماده:**

(۱) د متقابلې همکارۍ غوښتنه په لاندې حالاتو کې رد کېږي:
۱- په هغهٔ صورت کې چې غوښتنه، د غوښتوونکي هېواد د تقنیني سندونو مطابق او د اړوندو مراجعوله لارې وړاندې شوې نه وي.
۲- په هغهٔ صورت کې چې د غوښتنې اجراء کول د هېواد د نافذو تقنیني سندونو مغایر وي او د نظم او عامه امن د ګډوډولو موجب وګرځي.
۳- په هغهٔ صورت کې چې غوښتل شوی تورن تر محاکمې لاندې وي یا د مخه د عین تور (اتهام) په هکله دهېوادپه قلمرو کې قضایي فیصله صادره شوې وي.
۴- په هغهٔ صورت کې چې غوښتل شوي تدبیرونه د هېواد د تقنیني سندونو مطابق مجاز نه وي یا د هېواد له نافذو تقنیني سندونو سره سم، په غوښتنه کې د درج شوي جرم په هکله د تطبیق وړ نه وي.
۵- په هغهٔ صورت کې چې د فیصلې دتطبیق غوښتنه، دهېواد دنافذوتقنیني سندونو مغایره وي.
۶- په هغهٔ صورت کې چې د تدبیرونو د نیولو غوښتنه یا په نظر وړ شخص باندې د حکم تطبیق د توکمیزو، مذهبي، تابعیت، قومي جرړې (منشاء)، سیاسي نظریو، جنس یا د هغهٔ د ټولنیز موقف د ملحوظاتو پر بناء صورت موندلی وي.
۷- په هغهٔ صورت کې چې د تورن د عدلي تعقیب په اړه غوښتنه، سیاسي ماهیت او انګیزه ولري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۲) بانکي محرمیت د غوښتنې د ردولو موجب کېدای نشي.
(۳) څارنوالي کولای شي، د غوښتنې د رد په برخه کې د محکمې د فیصلې پر خلاف د حکم دابلاغ له نېټې څخه دېرش ورځې وروسته، داستیناف غوښتنه وکړي.
(۴) د افغانستان دولت د غوښتنې د رد دلایل د اړوندو مراجعو له لارې بهرنیو دولتونو او حکومتونو ته په لنډ وخت کې خبر ورکوي.

**د تحقیقاتي تدبیرونو د نیولو غوښتنه**
**در ویشتمه ماده:**
(۱) تدبیرونه د هېواد د نافذو تقنیني سندونو مطابق نیول کېږي، خو دا چې بهرنی واکمن مقام بېله کړنلاره چې د افغانستان له تقنیني سندونو سره مطابق وي، پیشنهاد کړي.
(۲) د قضایي ضبط مامور یا هغه شخص چې د بهرني واکمن مقام لخوا ټاکل شوی وي، کولای شي د معلوماتو د تر لاسه کولو او د تحقیقاتي تدبیرونو له اجراء څخه د ډاډ د حاصلولو په منظور، په تحقیقاتو کې برخه واخلي.

**د مؤقتو تدبیرونو د نیولو لپاره غوښتنه**
**څلېریشتمه ماده:**
(۱) محکمه مکلفه ده، د افغانستان ددولت د نافذو تقنیني سندونو مطابق د مؤقتو تدبیرونو د نیولو په برخه کې د بهرني دولت د واکمن مقام د غوښتنې په هکله حکم صادر کړي.
(۲) په هغه صورت کې چې له هېواد څخه په بهر کې د صادرې شوې فیصلې د تطبیق په هکله غوښتنه محکمې ته راجع شي او د هغې تطبیق د هېواد له نافذو تقنیني سندونو سره مغایرت ولري، محکمه واک لري، غوښتنه رد او له نافذو تقنیني سندونو سره په مطابقت کې غوښتل‌شوي ورته تدبیرونه ونیسي.
(۳) مؤقت اقدامات د دې قانون د پنځلسمې مادې په (۲) فقره کې ددرج شوي حکم مطابق، رفع کېدای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پنځم فصل
## متفرقه حکمونه

**د ثبت کړنلاره**

**پنځه ویشتمه ماده:**

سازمانونه او غیر انتفاعي مؤسسې چې د وجوهو او شتمنیو یا هبو او مرستو په راټولولو، تر لاسه کولو، ورکولو یا انتقالولو بوخت وي، مکلف دي خپلو فعالیتونو ته د هېواد د نافذ و قوانینو د حکمونو مطابق، سازمان ورکړي.

**هبه او اعانه**

**شپږ ویشتمه ماده:**

سازمانونه او غیر انتفاعي مؤسسې هر ډول هبه یا اعانه چې د دې قانون په (۲۵) ماده کې د درج شوي حکم مطابق تر لاسه کوي او مقدارېې د د افغانستان بانک له ټاکل شوي حد سره برابر یا ورځخه زیات وي، مکلف دي تر لاسه کړې هبې او اعانې له ټولو جزئیاتو سره په اړوندو سندونو کې ثبت او د پنځو کلونو لپاره یې وساتي او د څارونکو مراجعو د غوښتنې په صورت کې یې هغوی ته وړاندې کړي.

**ممنوعه سازمانونه**

**اووه ویشتمه ماده:**

(۱) په هغه صورت کې چې غیر انتفاعي مؤسسې او سازمانونه د دې قانون په درېیمه ماده کې درج شوي جرمونه په پوهې سره و هڅوي، ترویج یې کړي او سازمان ورکړي یایې مرتکب شي، اړونده څارنوالۍ کولای شي د سازمان د مؤقتي منع قرار صادر کړي.

(۲) د دې مادې په (۱) فقره کې د درج شوو غیر انتفاعي سازمانونو انحلال، د څارنوالۍ په غوښتنه د محکمې لخوا صورت مومي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د سازمانونو مجازات**

**اته ویشتمه ماده:**

په هغه صورت کې چې غیر انتفاعي سازمانونه او مؤسسې د دې قانون په پنځه ویشتمه او شپږ ویشتمه ماده کې له درج شوو حکمونو څخه سر غړونه (تخلف) وکړي د حالاتو په پام کې نیولو سره، په لاندې توګه مجازات کېږي:

۱- نقدي جریمه چې له پنځو زرو افغانیو څخه لږ او له پنځوسو زرو افغانیو څخه زیاته نه وي.

۲- په مؤقت ډول د مؤسسې د فعالیت منع کول چې له شپږو میاشتو څخه زیات نه وي.

۳- د مؤسسې منحلول.

**د الکترونیکي انتقالاتو ضمیمه معلومات**

**نهه ویشتمه ماده:**

(۱) فرمایش ورکوونکی شخص مکلف دی خپل ټول ماوراء سرحد الکترونیکي انتقالات د بشپړ شهرت او د اړوند حساب د نومرې له درجولو سره یو ځای او د حساب د نومرې د نه موجودیت په صورت کې دې د خاص مأخذ یوه نومره له انتقال سره ضمیمه کړي.

(۲) ټول کورني الکترونیکي انتقالات، د دې مادې د (۱) فقرې د حکمونو تابع دي، خو دا چې د انتقال په فرمایش ورکوونکي شخص پورې اړوند معلومات منتفعو مالي مؤسسو او واکمنو مقاماتو ته په بله طریقه وړاندې شي، پدې صورت کې د حساب یوه نومره یا د خاص مأخذ نومره چې په مرسته یې استوونکی تعقیب کړل شي، له انتقال سره ضمیمه کېږي.

(۳) د دې مادې د حکمونو د ښه تطبیق په منظور د د افغانستان بانک کولای شي ځانګړې کړنلاره وضع کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**انفاذ نېټه**

**د پرشمه ماده:**

دغه قانون د توشېح له نېټې څخه نافذ او په رسمي جریده کې دې خپور شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# قانون مبارزه علیه تمویل تروریزم

جریدهٔ رسمی شمارهٔ (۸۳۹)

مؤرخ ۱۳۸۳/۷/۳۰هــ. ش

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دولت انتـقالی اسلامی افغانستان**

**شماره:** (۱۳۶۹۹)

**تاریخ:** ۱۳۸۳/۷/۲۶

**محترم قانونپوه عبدالرحیم کریمی وزیر عدلیه!**

قانون مبارزه علیه تمویل تروریزم را که بداخل (۵) فصل و (۳۰) مـاده از طـرف مجلـس عـالی وزراء تصـویب و از جانب ما بـــه اسـاس فـرمـــان شـماره (۸۲) مؤرخ ۱۳۸۳/۷/۲۶ منظور گردیده است، بـه شما ارسال شد تا به نشر آن درجریدهٔ رسمی اقدام نمائید.

**حامد کرزی**

**رئیس دولت انتـقالی اسلامی افغانستان**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**فــــرمان**

**رئیس دولت انتـقالی اسلامی افغانستـــان در مــــورد انـــفاذ**

**قانون مبـــارزه عـــلیه تمویل تــــروریزم**

**شماره:** (۸۲)

**تاریخ:** ۱۳۸۳/۷/۲۶

**مادهٔ اول:**

قانون مبارزه علیه تمویل تروریزم را کـه بــــه اساس مـصوبهٔ شـماره (۳۱) مؤرخ ۱۳۸۳/۷/۲۰ از طرف مجلس عـالی وزراء بـداخل (۵) فـصل و (۳۰) ماده تصویب گردیده است، توشیح می‌دارم.

**مادهٔ دوم:**

این فرمان از تاریخ توشـیح نافـذ و همـــــراه بـــــا قـــانون در جریـدهٔ رسمی نشر گردد.

**حامد کرزی**

**رئیس دولت انتـقالی اسلامی افغانستان**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# قـانـون مبـارزه علیه تمویل تروریزم

## فصل اول
## احکام عمومی

**هدف**

**مادۀ اول:**

این قانون در روشنی حکم مادۀ هفتم قانون اساسی بـه منظـور مبـارزه علیه تمویل تروریزم وضع گردیده است.

**اصطلاحات**

**مادۀ دوم:**

اصطلاحات آتی در این قانون معانی ذیل را افاده می‌نماید:

۱- وجوه و دارائی ها: عبارت است از هـر نــوع دارائــی هـای مـادی و غیر مادی، شرکتی و غیر شرکتی، منقول و غیـر منقـول، عینـی و غیـر عینی و اسناد یا مدارک قانونی به شمول اسناد الکترونیکـی و دیجیتـل که مالکیت دارائی‌ها یاداشتن منافع در آن را ثابت نماید.

۲- عمارات و تجهیزات دولتی: عبارت اسـت از عمـارات، وسـائل نقلیـه و تجهیزات مؤقت یا دائمی که توسط تمـام کارکنـان دولتـی و سـازمانهای بین الحکـومتی و سـایر مـسئولین مراجـع دولتـی در رابطـه بـا پیـشبرد وظایف رسمی آنها تصرف و مورد استفاده قرار می‌گیرد.

۳- عواید ناشی از جرایم: عبارت است از هر نوع وجوه و دارائی های که طور مستقیم یا غیر مستقیم از طریق ارتکاب جرم مندرج مادۀ سـوم ایـن قانون حاصل گردیده باشد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



٤- کنوانسیون: عبارت است از کنوانسیون بین المللی در مورد جلوگیری از تمویل تروریزم که به تاریخ دهم جنوری سال (۲۰۰۰) میلادی به امضاء رسیده است.

**جرم تمویل تروریزم**

**مادهٔ سوم:**

(۱) شخص زمانی مرتکب جرم تمویل تروریزم شناخته می‌شود که وجوه و دارائی ها را طور مستقیم یا غیر مستقیم عمداً و بصورت غیر قانونی تهیه و جمع آوری یا سعی به تهیه و جمع آوری آن نموده یا وجوه و دارائی ها و سایر خدمات را با داشتن علم و آگاهی از اینکه قسماً یا کلاً به منظور پیشبرد فعالیت های ذیل مورد استفاده قرار می-گیرد، تهیه و جمع آوری و یا سعی به تهیه و جمع آوری آن نماید:

۱- هر عملیکه مطابق ضمائم مندرج کنوانسیون جلوگیری از تمویل تروریزم به حیث جرم شناخته شده و دولت افغانستان به آن الحاق نموده باشد.

۲- هر عملی که به قصد قتل یا جراحت شدید افراد ملکی یا سایر اشخاص که سهم فعال در خصومت ها و منازعات مسلحانه نداشته، صورت گیرد و هدف آن از نگاه ماهیت و قرینه دهشت افگنی در بین یک جمعیت یا وادارساختن حکومت یا سازمان بین المللی به انجام یا عدم انجام یک عمل باشد.

(۲) هر عملی که مطابق حکم فقرهٔ (۱) این ماده از جملهٔ عناصر متشکلهٔ جرم باشد، صرف نظر از اینکه از وجوه و دارائی ها واقعاً برای انجام جرم مندرج اجزای (۱ و ۲) فقرهٔ مذکور از آن استفاده صورت گرفته باشد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۳) شخص در حالات آتی نیز مرتکب جـــرم تمویـل تروریـزم شـناخته می شود:

۱- به حیث شریک در جرم مندرج فقـره هـای (۱) و (۲) ایـن مـاده سـهم بگیرد.

۲- سائر اشخاص را غرض ارتکاب جرم مندرج این ماده سازمان دهـی، رهنمائی و یا تحریک نماید.

۳- در ارتکاب یک یا بیشتر از یک جرم مندرج این ماده بـا اشخاصـی‌کـه برای یک هدف مشترک دست به عمل می زنند، با وصـف داشـتن علـم و آگاهی از هدف آنها مبنی بر ارتکاب جرم همکاری نموده و یا تسهیلات لا زم را جهت برآوردن اهداف شان فراهم نماید.

(٤) برای توجیه ارتکاب جرائم مندرج این ماده ملاحظات سیاسی،عقیدتی، نژادی، قومی، مـذهبی و سـایر مـوارد مـشابه آن مـدار اعتبـار پنداشـته نمی‌شود.

## فصل دوم

## تدابیر اجباری و مجازات

**مجازات اشخاص حقیقی**

**مادۀ چهارم:**

(۱) شخصی که مرتکب جرم تمویل تروریزم گردد، به مجازات حبسی که مدت آن از پنج سال کمتر و از پانزده سال بیشتر و جریمه نقدی ایکـه از مبلغ دو صد و پنجاه هزار افغانی کمتر و از یـک ملیـون و پنجـصد هـزار افغانی بیشتر نباشد، محکوم می‌گردد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۲) اشتراک کننده، معاونت کننده، تسهیلات فراهم آورنده، قصد کننده و مشوره دهنده به ارتکاب جرم تمویل تروریزم و اشخاصی که در اتحاد یا توافق با آنها قرار داشته باشند، مانند فاعل جرم مجازات می گردند.

**مجازات اشخاص حکمی**

**مادۀ پنجم:**

(۱) در صورتی که جرم تمویل تروریزم توسط کارمند، وکیل و یا نمایندۀ شخصیت حکمی ارتکاب گردد شخصیت حکمی به جریمۀ نقدی که از مبلغ یک ملیون و پنجصد هزار افغانی کمتر و از چهار ملیون و پنجصد هزار افغانی بیشتر نباشد محکوم می گردد، این حکم مانع تطبیق اصل مجازات بالای اشخاص حقیقی منسوب به شخصیت حکمی نمی گردد. شخصیت حکمی متعلق به دولت از این امر مستثنی است.

(۲) شخصیت حکمی علاوه بر مجازات مندرج فقرۀ (۱) این ماده به مجازات آتی نیز محکوم شده می تواند:

۱- ممنوعیت دائمی یا حداقل پنج سال از پیشبرد مستقیم و یا غیر مستقیم برخی از فعالیت‌های تجارتی.

۲- مسدود نمودن دائمی یا حداقل برای مدت پنج سال ساختمان‌های مربوط که در ارتکاب جرائم مندرج این قانون از آن استفاده صورت گرفته باشد.

۳- انحلال شرکت مشروط بر اینکه هدف از تأسیس آن ارتکاب جرم باشد.

٤- نشر حکم از طریق رسانه های همگانی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**احوال مشدده**

**مادهٔ ششم:**

هرگاه جرم تمویل تروریزم توسط سازمان جنایتکار یا شخصیت حکمی ایکه تحت تملک یا کنترول سازمان جنایت کار قرار دارد صورت گیرد، طور ذیل مجازات می‌گردد:

۱- شخص حقیقی به حبسیکه از پانزده سال کمتر نباشد یا حبس ابد و جریمهٔ نقدی ایکه از یک ملیون افغانی کمتر و از دوازده ملیون افغانی بیشتر نباشد محکوم می‌گردد.

۲- شخص حکمی به جریمهٔ نقدی ایکه از مبلغ چهار ملیون و پنجصد هزار افغانی کمتر و از بیست ملیون افغانی بیشتر نباشد، محکوم می-گردد.

**احوال مخففه**

**مادهٔ هفتم:**

احوال مخففه مندرج قوانین جزائی کشور در مورد مرتکبین جرائم مندرج این قانون قابل رعایت می‌باشد.

**مصادره**

**مادهٔ هشتم:**

(۱) وجوه و دارائی های ذیل از طرف محکمهٔ ذیصلاح مصادره می‌گردد:

۱- وجوه و دارائی های که به منظور ارتکاب جرم مورد استفاده قرار گرفته یا قصد استفاده از آن موجود باشد.

۲- وجوه و دارائی های که از عواید جرمی به دست آمده یا از آن مشتق گردیده و یا از تبادلهٔ آن به دست آمده باشد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳- وجوه و دارائی های مندرج اجزای (۱و۲) این فقره که به شخصی دیگری منتقل گردیده باشد، مگر اینکه مالک ثابت نماید که در مقابل دریافت چنین وجوه و دارائی ها قیمت معادل آن را پرداخته یا آنرا در بدل خدمات معادل به ارزش آن و یا از طریق مشروع دیگری بدست آورده و از غیر قانونی بودن منشاء چنین وجوه و دارائی ها آگاهی نداشته است.

٤- وجوه و دارائی های که به صورت مستقیم یا غیر مستقیم از عمل جرمی حاصل گردیده، با وجوه و دارائی های که از منابع مشروع بدست آمده، مخلوط باشد، حکم مصادرۀ چنین وجوه و دارائی ها به اندازۀ صورت می‌گیرد که با ارزش عواید وجوه و دارائی های حاصله از جرم، مطابق ارزیابی محکمه معادل باشد.

۵- هرگاه وجوه و دارائی های که حکم به مصادرۀ آن صادر گردیده دستیاب شده نتواند، حکم به مصادرۀ وجوه و دارائی های معادل آن صادر می‌شود.

این حکم شامل وجوه و دارائی های است که بصورت مستقیم یا غیر مستقیم به مرتکب جرم تمویل تروریزم متعلق بوده و یا وجوه و دارائی های که توسط همسر یا اولاد تحت کفالت محکوم علیه از وی حاصل گردیده باشد، مگر اینکه قیمت معادل در مقابل چنین وجوه و دارائی ها پرداخته شده باشد.

(۲) در حکم مصادره اندازۀ وجوه و دارائی های مورد نظر مشخص می گردد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مصادرهٔ وجوه و دارائی های سازمان جنایتکار**

**مادهٔ نهم:**

وجوه و دارائی های سازمان جنایت کار که صلاحیت فروش یا سایر اشکال از دست دادن آنرا داشته باشد بدون نظرداشت مجرمیت یا رابطه با جرم مصادره می گردد.

**ابطال بعضی از اسناد قانونی**

**مادهٔ دهم:**

اسناد قانونی ایکه به منظور حفاظت وجوه و دارائی ها از مصادرهٔ، مندرج مواد هشتم و نهم این قانون به صورت رایگان یا در بدل قیمت در زمان حیات یا به صورت هبه و یا وصیت قبل از مرگ ترتیب گردیده باشد، به اساس حکم محکمه باطل و مبلغی به مشتری مسترد می‌گردد که واقعاً آنرا پرداخته باشد.

**تعلقیت وجوه و دارائی های مصادره شده**

**مادهٔ یازدهم:**

(۱) مالکیت وجوه و دارائی های مصادره شده و عواید حاصله از آن به دولت تعلق می‌گیرد. حقوق رهنی اشخاص ثالث در وجوه و دارائی های مصادره شده در صورتی‌که قانوناً تثبیت گردد، محفوظ می‌باشد.

(۲) در صورت صدور حکم غیابی مبنی بر مصادرهٔ وجوه و دارائیها، مالکیت آن به دولت تعلق می‌گیرد.

هرگاه محکمه به اساس درخواست متهم را تبرئه و حکم مصادره را لغو نماید، وجوه و دارائی های مصادره شده یا ارزش معادل آن به مالک اعاده می‌گردد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**حقوق اشخاص ثالث در وجوه و دارائی های مصادره شده**

**مادۀ دوازدهم:**

ادعای مالکیت اشخاص ثالث در وجوه و دارائی های مصادره شده از تاریخ صدور حکم الی یک سال در محکمۀ ذیصلاح قابل سمع می باشد.

**منجمد سازی وجوه و دارائی‌ها**

**مادۀ سیزدهم:**

منجمد ساختن وجوه ودارائی های اشخاص و سازمان های که توسط شورای امنیت ملل متحد به تأسی از فصل هفتم منشور ملل متحد تعیین گردیده است، به اساس فرمان رئیس دولت افغانستان صورت می‌گیرد.

**طرز العمل در مورد منازعات منجمد سازی**

**مادۀ چهاردهم:**

وجوه و دارائی های اشخاص و یا سازمانهای که به موجب حکم مادۀ (۱۳) این قانون منجمد ساخته شده است، مالک آن می‌تواند از تاریخ صدور فرمان الی (۳۰) روز غرض استیناف خواهی به ستره محکمه مراجعه نماید. تصمیم ستره محکمه در مورد نهائی می باشد.

**تدابیر مؤقت**

**مادۀ پانزدهم:**

(۱) محکمۀ ذیصلاح حسب لزوم دید خود یا بالا ثر درخواست څارنوال می‌تواند حکم اتخاذ تدابیر مؤقت را به مصرف دولت مبنی بر منجمد نمودن وجوه و دارائی ها و معاملات مالی صادر نماید.

(۲) حکم رفع تدابیر مندرج فقرۀ (۱) این ماده به اساس درخواست څارنوال یا مالک وجوه و دارائی های منجمد شده توسط محکمۀ ذیصلاح صادر می گردد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ضبط**

**مادۀ شانزدهم:**

محکمۀ ذیصلاح حسب لزوم دید خود یا بـالا ثـر درخواسـت څارنــوال، وجوه و دارائی های را که در ارتکاب جرائم مندرج مادۀ سوم این قـانون مورد استفاده قرار گرفته یـا قـصد اسـتفاده از آن متـصور باشـد و نیـز عواید ناشی از چنین جرائم و مـدارک تـسهیل کننـده تـشخیص وجـوه و دارائی ها را ضبط می نماید.

## فصل سوم

## صلاحیت محاکم

**حوزۀ صلاحیت محاکم**

**مادۀ هفدهم:**

(۱) احــکام ایـــن قانون بالای جرائم مندرج مادۀ سـوم آن در حـــالات آتی قــابل تــطبیق می‌باشد:

۱- جرم در داخل قلمرو دولت افغانستان ارتکاب گردیده باشد.

۲- جـرم در داخــل کــشتی کــه حامــل بیــرق دولــت افغانــستان بــوده یا در طیارۀ که قبل از وقوع جرم طبق قوانین نافذۀ کشور ثبت و راجستر گردیده، ارتکاب یافته باشد.

۳- جرم توسط تبعۀ افغانستان ارتکاب گردیده باشد.

٤- جرم در خارج از قلمرو افغانـستان توسـط شـخص خـارجی ارتکـاب گردیده که فعلاً در کشور موجـود بـوده و دولـت افغانـستان موافـق بـه استرداد آن بــه دولـت درخواست کننده نباشد.

٥- جرم علیه تبعۀ دولت افغانستان ارتکاب گردیده باشد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



٦- جرم در ساختمان یا علیه ساختمان دولت افغانستان کـه در خـارج از محدودۀ جغرافیائی آن واقع است،ارتکاب گردیده باشد.

٧- عملی که به منظور ارتکاب یکی از جـرائم منـدرج اجـزای (١و٢) فقـره (١) مادۀ سوم این قانون بـــه قـصد وادار نمـودن دولـت افغانـستان بـه اجراء یا عدم اجرای یک عمل صورت گرفته باشد.

٨- جرم توسط شخص بدون تابعیـت مقـیم در قلمـرو دولـت افغانـستان ارتکاب گـــردیده باشد.

(٢) ستره محکمه دولت افغانستان به منظور رسیدگی بـه جـرایم ارتکـاب یافته در خـارج از محـدودۀ جغرافیـائی کـشور محکمـۀ خـاص را ایجـاد می‌نماید.

## فصل چهارم

## همکاری بین المللی

**همکاری متقابل**

**مادۀ هجدهم:**

به منظور مبارزۀ مؤثر باجرائم مندرج این قـانون در زمینـه هـای تبـادل معلومات، تحقیقات، جریـان رسـیدگی، تـدابیر مؤقـت، مـصادرۀ اسـناد و وجوه و دارائـی هـای مربـوط بـه تمویـل تروریـزم، اسـترداد متهمـین و مساعدت های لا زم تخنیکی با سائر دول، همکاری متقابل صورت گرفته می تواند.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**حق مکاتبه (ارتباط)**

**مادهٔ نزدهم:**

(۱) در صورتی‌که تبعهٔ خارجی یا شخص بدون تابعیت مقیم افغانستان که بنابر ارتکاب جرائم مندرج این قانون تحت نظارت یا توقیف قرار می‌گیرد، دارای حقوق ذیل می‌باشد:

۱- تماس گرفتن فوری با نمایندهٔ دولت متبوع یا شخصی‌که صلاحیت حفظ حقوق وی را داشته باشد.

۲- ملاقات شخص بدون تابعیت با نمایندهٔ کشوریکه عادتاً در آن سکونت دارد.

۳- ابلاغ حقوق مندرج اجزای (۱و۲) این فقره به آنها.

(۲) هرگاه څارنوالی درخواست مبنی برگرفتاری و توقیف را از جانب دولتی که جرم در حوزهٔ صلاحیت قضائی آن ارتکاب گردیده دریافت نماید، څارنوالی تدابیر لا زم را اتخاذ می نماید که با شخص تحت نظارت یا توقیف مطابق احکام این قانون توسط نمایندهٔ صلیب سرخ بین المللی ملاقات صورت گرفته بتواند.

**اطلاعیه به کشور های ذیربط**

**مادهٔ بیستم:**

ادارهٔ څارنوالی مکلف است بلافاصله از چگونگی دلا ئل الزام و نتایج حاصله از تحقیقات اشخاص مندرج مادهٔ نزدهم این قانون از طریق مجاری دیپلوماتیک دولت افغانستان و یا ذریعهٔ سکرتر جنرال سازمان ملل متحد، کشور های را که جرم در حوزهٔ صلاحیت قضائی آنها ارتکاب گردیده و در صورت لزوم کشور های ذیعلاقه را مطلع گرداند.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**تقاضا برای همکاری قضائی**

**مادهٔ بیست و یکم:**

هرگاه دول خارجی در رابطه با جرایم مندرج این قانون و قانون مبارزه علیه تطهیر پول و عواید ناشی از جرایم، درخواست همکاری متقابل نمایند، این درخواست با نظرداشت موارد ذیل قابل اجراء می باشد:

۱- جمع آوری مدارک اثباتیه و یا اخذ اظهارات از اشخاص ذیربط.

۲- مساعدت در تسلیمی اشخاص تحت نظارت یا توقیف و احضار سایر اشخاص به منظور ارایهٔ مدارک و مساعدت در تحقیقات مربوط به مقامات قضائی دولت درخواست کننده.

۳- فرستادن اسناد قضائی.

٤- اجرای تلاشی و ضبط اشیاء.

٥- معاینهٔ اشیاء و مشاهدهٔ محلات.

٦- ارائه معلومات و مدارک اثباتیهٔ جرم.

۷- ارائه اصل و یا کاپی مصدقهٔ اسناد و سوابق مربوطه، بشمول صورت حساب بانکی، اسناد محاسبوی و سایر اسناد و سوابقیکه نشاندهندهٔ عملیات شرکت و یا فعالیت‌های تجارتی آن باشد.

**رد درخواست**

**مادهٔ بیست و دوم:**

(۱) درخواست همکاری متقابل در حالات آتی رد می‌گردد:

۱- در صورتی‌که درخواست مطابق به اسناد تقنینی کشور درخواست کننده و از طریق مراجع ذیربط ارائه نگردیده باشد.

۲- در صورتی‌که اجرای درخواست مغایر اسناد تقنینی نافذ کشور بوده، موجب اخلال نظم و امن عامه گردد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳- در صورتی‌که متهم تقاضا شده تحت محاکمه قرار داشته یا قبلاً در مورد عین اتهام در قلمرو کشور فیصلهٔ قضائی صادر شده باشد.

٤- در صورتی‌که تدابیر تقاضا شده مطابق به اسناد تقنینی کشور مجاز نبوده یا طبق احکام اسناد تقنینی نافذهٔ کشور در مورد جرم مندرج درخواست قابل تطبیق نباشد.

٥- در صورتی‌که تقاضای تطبیق فیصله مغایر اسناد تقنینی نافذ کشور باشد.

٦- در صورتی‌که تقاضای اتخاذ تدابیر یا تطبیق حکم بالای شخص مورد نظر بنابر ملحوظات نژادی، مذهبی، تابعیت، منشاء قومی، نظریات سیاسی، جنس یا موقف اجتماعی وی، صورت گرفته باشد.

٧- در صورتی‌که تقاضای مربوط به تعقیب عدلی متهم، ماهیت و انگیزهٔ سیاسی داشته باشد.

(٢) محرومیت بانکی موجب رد درخواست شده نمی‌تواند.

(٣) څارنوالی می تواند علیه فیصلهٔ محکمه مبنی بر رد درخواست الی سی روز بعد از ابلاغ حکم طالب استیناف گردد.

(٤) دولت افغانستان دلائل رد درخواست را از طریق مراجع مربوطه به دول و حکومات خارجی به اسرع وقت اطلاع می‌دهد.

**درخواست اتخاذ تدابیر تحقیقاتی**

**مادهٔ بیست و سوم:**

(١) تدابیر تحقیقاتی مطابق اسناد تقنینی نافذه کشور اتخاذ می‌گردد مگراین‌که مقام ذیصلاح خارجی طرز العمل دیگری را که با اسناد تقنینی افغانستان مطابق باشد پیشنهاد نماید.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۲) مامور ضبط قضائی یا شخصی که توسط مقام ذیصلاح دولت خارجی تعیین گردیده، می‌تواند به منظور کسب معلومات و حصول اطمینان از اجرای تدابیر تحقیقاتی در تحقیقات اشتراک نماید.

**درخواست جهت اتخاذ تدابیر مؤقت**

**مادۀ بیست و چهارم:**

(۱) محکمه مکلف است در مورد درخواست مقام ذیصلاح دولت خارجی مبنی بر اتخاذ تدابیر مؤقت مطابق به اسناد تقنینی نافذۀ دولت افغانستان، حکم صادر نماید.

(۲) در صورتی‌که درخواست مبنی بر تطبیق فیصلۀ صادر شده در خارج کشور به محکمه راجع گردد و تطبیق آن با اسناد تقنینی نافذ کشور مغایرت داشته باشد، محکمه صلاحیت دارد، درخواست را رد و تدابیر مشابه تقاضاء شده را در مطابقت به اسناد تقنینی نافذ اتخاذ نماید.

(۳) اقدامات مؤقت طبق حکم مندرج فقرۀ (۲) مادۀ پانزدهم این قانون مرفوع شده می‌تواند.

## فصل پنجم
## احکام متفرقه

**طرزالعمل ثبت**

**مادۀ بیست و پنجم:**

سازمانها و مؤسسات غیر انتفاعی که مصروف جمع آوری، دریافت، اعطاء یا انتقال وجوه و دارائی ها یا هبه ها و اعانه ها می‌باشند، مکلفند فعالیت های خویش را مطابق احکام قوانین نافذۀ کشور سازماندهی نمایند.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**هبه و اعانه**

**مادۀ بیست و ششم:**

سازمان ها و مؤسسات غیر انتفاعی هر نوع هبه یا اعانۀ را که مطابق حکم مندرج مادۀ (۲۵) این قانون دریافت می نماید و مقدار آن برابر یا بالا تر از حد تعیین شدۀ د افغانستان بانک باشد، مکلفند، هبه ها و اعانه های دریافت شده را با تمام جزئیات آن در اسناد مربوط ثبت وبرای مدت پنج سال نگهداری و در صورت تقاضای مراجع نظارت کنندۀ مربوط، به آنها ارائه نمایند.

**سازمانهای ممنوعه**

**مادۀ بیست و هفتم:**

(۱) در صورتی‌که مؤسسات و سازمانهای غیر انتفاعی، جرائم مندرج مادۀ سوم این قانون را آگاهانه تشویق، ترویج و سازماندهی نموده یا مرتکب آن گردند، **څا**رنوالی مربوط می‌تواند قرار منع مؤقت سازمان را صادر نماید.

(۲) انحلال سازمانهای غیر انتفاعی مندرج فقرۀ (۱) این ماده بالا ثر درخواست **څا**رنوالی توسط محکمه صورت می‌گیرد.

**مجازات سازمانها**

**مادۀ بیست و هشتم:**

در صورتی‌که سازمانها و مؤسسات غیر انتفاعی از احکام مندرج مواد بیست و پنجم و بیست و ششم این قانون تخلف نمایند، با نظرداشت حالات، قرار ذیل مجازات می گردند:

۱- جریمۀ نقدی ایکه از مبلغ پنج هزار افغانی کمتر و از پنجاه هزار افغانی بیشتر نباشد.

۲- منع مؤقت فعالیت مؤسسه که از شش ماه بیشتر نباشد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳- انحلال مؤسسه.

**معلومات ضمیمهٔ انتقالات الکترونیکی**

**مادهٔ بیست و نهم:**

(۱) شخص فرمایش دهنده مکلف است تمام انتقالات الکترونیکی ماوراء سرحد خویش را با درج شهرت مکمله و نمبر حساب مربوط یکجا و در صورت عدم موجودیت نمبر حساب یک نمبر مأخذ خاص را با انتقال ضمیمه نماید.

(۲) تمام انتقالات الکترونیکی داخلی تابع حکم مندرج فقرهٔ (۱) این ماده می‌باشد. مگر اینکه معلومات مربوط به شخص فرمایش دهندهٔ انتقال به مؤسسات مالی منتفع و مقامات ذیصلاح بطریق دیگری ارائه گردد، درین صورت یک نمبر حساب یا نمبر مأخذ خاص که به کمک آن فرستنده تعقیب گردیده بتواند، با انتقال ضمیمه می‌گردد.

(۳) به منظور تطبیق بهتر احکام این ماده، د افغانستان بانک می‌تواند طرز العمل خاصی را وضع نماید.

**تاریخ انفاذ**

**مادهٔ سی ام:**

این قانون از تاریخ توشیح نافذ و در جریدهٔ رسمی نشرگردد.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**